USAID | AFGHANISTAN
FROM THE AMERICAN PEOPLE

جنسیت

جون ۲۰۱۱

کتنه

چون افغاني ښځې د زده کړې، روغتیایي خدمتونه، کار، او په عامه ژوند کې د ګډون نه په کلونو کلونو بې برخې پاته دي، هغوی اوس هم د یوازیتوب، بیسوادی، خراب روغتیایي حالت او ژور فقر نه رنج وړي. د متحده ایالاتو حکومت ژمن دی څو د ښځو د توان په وړاندې ستونزې حل کړي ځکه د هغوي مرسته د افغانستان ټولنې ته خورا زیاته اړینه ده.

روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسی زیاتوالی

افغاني ښځې د میندو د مړینې له پراخې کچې، سوؤتغذي، د وینې کمښت، د جګړې نه وروسته تراوما، او کلینکي رکود نه رنج وړي. نړدې ۶۰ سلنه نفوس د صحي کلینیکونو څخه د دوه ساعته مزل په اوږدو لرې ژوند کوي چې په ۲۰۰۲ کال کې دغه ستونزه ۹ سلنه وه. USAID ښځو ته اساسي روغتیایي خدمات او د روغتون خدمات په ۱۳ ولایتونو کې برابروي. دغه پروژې نسایي خدمات او ټولنیز ناروغی تشخیصوي، او دماغي ناروغی او معیوبیتونه معالجه کوي او ضروری دواګانې ورکوي.

له ۲۰۰۲ نه راپدېخوا د مور او ماشوم مړینه تر ۲۲ او ۲۶ سلنو پورې کښته شوېده. د قابله ښځو لپاره ملاتړ د نسایي مرګونو مخه نیولې ده. د USAID پروژو لخوا ۱۴۸۰ نه زیات قابله ښځې تر روزنې لاندې نیول شوي چې په هیواد کې د ټولو فعالو قابله ګانو ۵۵ سلنه جوړوي. د USAID فعالیتونه مرسته کوي څو ښځینه روغتیایي کارکوونکي زیات شی او په صحي برخو کې د ښځو شمولیت زیاتوالی ومومي. په نتیجه کې، د USAID لخوا په مرسته شویو تاسیساتو کې کم از کم یو ښځینه صحي کارکوونکي زیاته شوې چې په ۲۰۰۲ کې له ۲۶ نه په ۲۰۱۰ کې ۸۵ ته رسیدلي.

د اقتصادي ودې د فرصتونو پراختیا

په داسې حال کې چې ښځې د هیواد ۵.۳۸ سلنه کاري قوه جوړوي، د یو سلنې څخه کمې ښځې مالي خدمتونو ته لاسرسی لري. اکثره ښځې په غیررسمي سکتور کې کار کوي او هغوي ته خپل عایدات نه ورکول کیږي. د USAID تمرکز د ښځو د اقتصادي وضعیت ښه والی دی او ښځینه تجارتونو ته یې ۵.۳ ملیونه ډالره کوچني پورونه ورکړي څو ټولنیز ګډون زیات شي او د هغوي پوهه او مهارتونه لوړ شي. USAID ۲۳۰۰ ښځینه تشبثاتو ته مرسته وکړه، ۴۰۰ ښځینه تجارتونه ایجاد کړل او ۵۰۰۰ ښځې یې د لاسي صنایعو، ارزښت ځنځیر او هنرونو کې زده کړه ورکړه. ښځینه متشبثینو ته همکاري هم کیږي لکه په باغداری، غذایی پروسس، وترنري ساینس، او د کشمیرې په جوړولو کې. ښځې د هیواد د کرهنې سکتور د کارکوونکو ۶۰ سلنه برخه جوړوي. USAID د ښځو د فارم خدمتونو لومړنی مرکز په کابل کې پرانیست چې ۱۰۰۰۰ ښځو ته خدمت کوي. ۲۵ ښځینه کرهنیز ماسټرانو ته زده کړه ورکړل شوه څو ښځینه بزګر وروزي او کرهنیز پروګرامونه په څلورو ښوونځیو کې پیل شوي. USAID د کرهنې بیلابیل پروګرامونه تمویلوي څو په کرهنیز تجارت کې د ښځو وندې زیاته کړي. دغه راز، متحده ایالات هغو ښځو ته چې باید په کورونو کې کار وکړي فرصتونه ایجادوي او د هغوي تولیداتو ته د بازاریابی خدمتونه وړاندې کوي.

د سواد او زده کړې فرصتونو زیاتول

د ۲۰۰۲ نه را پدیخوا، افغانستان د نجونو د زده کړې په برخه کې زیاتې لاسته راوړنې لري په داسې حال کې چې دا د طالبان په وخت کې صفر وه. په ۲۰۱۰ کې ۳۷ سلنه هغه زده کوونکې چې د لومړي نه تر دولسمه پورې زده کړه کوي ښځې دي. په چې د نجونو او هلکانو په تعداد کې زیاتوالی راغلی، په هیواد کې یوه ستره خلا ښځو ته د با کیفیته زده کړې برابرول دي. نړدې ۹۰ سلنه کلیوالي افغاني ښځې بیسواده دي.

ادامه لري

PHOTO: USAID/AFGHANISTAN

یو د ۹۰ ښځینه کرهنیز تجارتي متشبثینو نه په ننګرهار ولایت کې د سبو د تخمونو یو فارم اداره کوي چې تجارتي بزګرو ته تخم ورکوي. دغه پروګرام د *USAID* د لسهاوو هغو پروګرامونو څخه دی چې ښځې د کرهنې د ارزښت په ځنځیر کې منسجموي.

د جنسیت خلاصه

- په میاشت کې ۵۲۵۰۰۰ نه زیات ښځې او ماشومان روغتیایي خدمتونه لاسته راوړي
- د ښځو لپاره ۱۱۰۰۰۰ کوچني پورونه د ۶.۲۴ میلیون ډالرو په ارزښت اجرا شوي
- له ۶۰۰ نه زیات قابله ښځې روزل شوي او د هیواد ۲۵ سلنه قابله ګانې جوړوي
- د ۹۴۰۰۰ کسانو لپاره (۶۲ سلنه ښځې) په ۲۰ ولایتونو کې د سواد او حساب کورسونو جوړول

معلومات د جون ۲۰۱۱ څخه

USAID | AFGHANISTAN
FROM THE AMERICAN PEOPLE

جنسیت (ادامه)

د USAID د پوهنې پروژه د ښځینه ښوونکو په روزنه باندې کار کوي، کتابونه جوړوي او چاپوي چې ښځې په غیر عنعنوي شکل سره ترسیموي او د ښوونځیو امنیت پیاوړی کوي او اساسي لوازم برابروي څو د نجونو حاضري زیاته شي. په ټولنو کې د زده کړې ټولګیو څخه ۶۴۶۰۰ نجونې او ۳۹۰ ښځینه ښوونکې ګټه پورته کړېده چې په لرې پرتو سیمو کې دي. د سواد آموزۍ او حساب کورسونه ۹۴۰۰۰ تنو ته (۶۲ سلنه ښځې) په ۲۰ ولایتونو کې رسېدلي. د ۲۰۰۲ څخه USAID ۶۸۰ ښوونځي جوړ یا ترمیم کړي چې ۱۰ سلنه یې یوازې د نجونو ښوونځي دي.

د ښځو حقوقو نه دفاع

ښځو ته د عامه ژوند حق اوږدې مودې لپاره نده ورکړل شوې، حال دا چې اساسي قانون یې حفاظت کوي. افغان ښځې د خپلو حقونو نه کمه پوهاوي لري او رسمي عدلي سیستم د ښاري مرکزونو څخه هاخوا د لاسرسۍ وړ ندي. د بدلون په موخه، USAID ښځینه د حقوقو محصلینو او قاضیانو ته د ښځو د حقونو په هکله د پوهاوی کورسونه دایروي، ګردی میزونه تمویلوي څو د ښځو پر حقونو ډیالوګ او خبرې وشي، هغوي سره مرسته کوي څو مهارتونه زده او پر پالیسیو اغیز واچوي او د اصلاح لپاره هڅه وکړي، د مساوي رای ورکولو حقونو نه ملاتړ کوي، ښځینه کاندیدانو نه ملاتړ کوي او په سیاسي حزبونو کې د جنسیت مساوات پیاوړی کوي. دغه اداره ښځینه قاضیان روزي څو په محکمو کې ریاست وکړي، قضیې مدیریت کړي، او ضروري څېړنې وکړي. دغه راز، USAID د خبرونو او رسنیو کورسونه ۸۲۰ ښځینه ژورنالیتانو، ۷۲۰ اجرایي ښځینه کارکوونکو، ۱۲۸۰ د مدني ټولنو غړو، او ۱۶۶ ملي قانون جوړوونکو ته د هیواد به کچه دایر کړیدي. د USAID نوښتونه مرسته کړېده څو د جنسیت اړونده قوانین جوړ شي لکه د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منځه وړلو قانون.

د ښځو سره مرسته څو په مدني ټولنه کې ګډون وکړي

د سفیر د کوچنیو نقدي مرستو پروګرام په افغانستان کې د جنسیت د مساواتو لپاره د ښځو چارو وزارت سره کار کوي تر څو د افغانو ښځو او نجونو د ژوند کیفیت او موقف بهتره کړي تر څو پرښځو متمرکزو مدني ټولنې سازمانونو ظرفیت لوړ کړي چې په ټولنیز، اقتصادي او سیاسي پرمختګ کې د ښځو سره په ټول هیواد کې مرسته وکړي. دغه درې کلن ۹.۳۸ ملیون ډالریزه پروژه ټول ۳۴ ولایتونو تر پوښښ لاندې راولي. علاوتاً، USAID د مدني ټولنې سازمانونو ته تخنیکي مرسته، ظرفیت جوړونه او نقدي مرستې برابروي او د غیر دولتي سازمانونو د قانونو له تطبیق څخه په افغانستان کې ملاتړ کوي. د ښځو چارو وزارت سره په همکاری، پر ښځو باندې د مدني ټولنې د سازمانونو یوه نوې شبکه ایجاده شوې ده. دغه راز، USAID د ښځو وزارت سره د سازماني ظرفیت جوړوني او عامه لاسرسۍ په برخه کې مرسته کوي او یو داسې پروګرام طرح کوي چې له مخې به یې په ولایتونو کې هم د ښځو چارې ریاستونه ښه فعالیت وکړي.

PHOTO: USAID/AFGHANISTAN

اوس د نجونو شمیر ۳۵ سلنه د شپږ ملیونو زده کوونکو څخه ده. د طالبانو په وخت کې نجونې د رسمي زده کړو نه منع شوې وې.

PHOTO: USAID/AFGHANISTAN

له ۲۰۰۲ نه USAID ۷۰۷ نه زیاتو ژورنالیستانو ته زده کړه ورکړې او په هیواد کې د خپلواکو رسنیو شبکه یې لا پیاوړې کړېده.

د تماس معلومات

USAID/کابل
د کابل پته ۶۱۸۰
Dulles, VA 20189-6180
202.216.6288x4454
0093 (0) 799-794-674
http://afghanistan.usaid.gov
kabulaidinformation@usaid.gov